# د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندی کړی مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وايي چې: د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندی کړی مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» يې ېکې ویلی دی. او له هغې څخه روایت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلې رکوع او سجده کې: «سُبْحَانَكَ اللهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي» زيات ويل، يعني قرآن به يې عملي کاوه.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

د مؤمنانو مور عایشه رضي الله عنها روایت کوي چې کله پر نبي صلى الله عليه وسلم {إذا جاء نصر الله والفتح} نازل شو: نو د قرآن د عملي کولو په موخه يې د الله تعالى د امر عملي کولو ته بيړه وکړه، چې فرمايي: {فسبح بحمد ربك واستغفره}. يعني: د خپل رب پاکي دې له ستاينې سره بيانوه او له ده نه مغفرت غواړه) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلې رکوع او سجده کې: «سبحانک» ډېر ويل: يعني تا لره پاکي ده له هرې هغې نېمګړتيا څخه چې ستا د شان سره نه ښايي، «اللهم ربنا وبحمدك» يعني ای زموږ ربه، زه ستا د ستاينې سره تسبيح وايم، ستا هغه ډول ډول ستاينه کوم چې ستا د ذات، صفاتو او کړنو د کمال ښايي، «اللهم اغفر لي» يعني ای الله! ماته بخښنه وکړه، زما ګناهونه ليري کړه او ترې تېر شه.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee